پښتو ژباړه: رحمت آریا                                        ۲۰۲۴/۰۴/۲۳

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۷۰ مه پرله پسې برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځ

ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**پیروخیل**: ۸ – ۳۴، ۳ – ۶۹: دا د لوګر په ولسوالي کې د بابوس د شمال لویدیځ په ۵ مایلۍ کې یو کلی دی. ﴿هاروي﴾

* **پیش بند**: ۲۵ – ۳۴، ۴۰ – ۶۶ «ن»: دا د بامیانو د ولایت په ختیځ کې د «اسغرات» [1] د شمال په څو مایلۍ کې یو کلی دی.

* **پیتاو**: ۳ – ۳۴، ۵۰ – ۶۶ «ن»: دا د بامیانو د ولایت په سویل لویدیځ کې د «ایسپي غاو» [2] په ختیځ او د «کوهٔ چاشت» [3] په سویل ختیځ کې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه: د بامیانو په ولایت کې د «کوهٔ سرِ غار» [4] او د بابا د غرنۍ لړۍ په سویل کې په ۳۴ – ۳۴، ۴۸ – ۶۷ «ن» کې؛ د کاپیسا په ولایت کې د تګاب په سویل لویدیځ او د کوهٔ صافي په شمال ختیځ کې په ۴۴ – ۳۴، ۲۸ – ۶۹ «ن» کې، د کابل د سیند د یوې څانګې په اوږدو کې د کونړ – ننګرهار کرښې ته نږدې د تور کاڼي په شمال کې په ۳۱ – ۳۴، ۵۷ – ۷۰ «ن» کې؛ د کونړ په ولایت کې د چغه سرای په سویل ختیځ کې د کونړ د سیند د یوې څانګې په اوږدو کې د «هندو» [5] د سیند پر غاړې په ۵۱ – ۳۴، ۱۴ – ۷۱ «ن» کې، د غزني په ولایت کې په «ای مایتو» [6] کې په ۱۴ – ۳۳، ۲۲ – ۶۷ «ن» کې؛ او د غزني په ولایت کې د آبِ ایستاده په سویل لویدیځ کې د سکندر خیلو په سیمې کې په ۱۸ – ۳۲، ۴۱ – ۶۷ «ن» کې.

**پیتاو**: دا د دایزنګي په سیمې کې د کلا په منځ کې یو کلی دی.

---

1 -Asgharat
2 -Espighaw
3 -Koh -i- Chasht
4 -Koh -i -Sare Ghar
5 -Hindu stream
6 -Aimaitu


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**پیتاوه** : [7]: پیتاوۀ غربان: [8]: هغه سیمه چې د «پنج آو» [9] پنج آب – ژ د درې په نوم پېژندل کـېـږي ظاهراً له «بیني ګاو تګاو» [10] سره د یو ځای کیدني له ټکي کښته سیمه ده. وګورئ: «پنج آو.۱» د پیتاوۀ غربان په نوم کلی په ۲۲ – ۳۴، ۳۱ – ۷۰ «ج» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**پیتله**: [11]: دا د «لکړی د کوتل» [12] د شمال لویدیځ په نېـږدې ۱ مایلۍ کې د ځاځیانو یو کلی دی. (بارتن)

**پیتي ګل:** پتي ګل: [13]: ۲۸ – ۳۵، ۳۲ – ۷۱ «ن»: لوړوالی: ۵۰۰۰ فیټه.
دا په کافرستان کې یو کلی دی چې ۵۰ کورونه لري او ډېـره کرهنه په کې سوې ده. د پیتي ګل دره د «پارپیت» [14] له کوتل څخه مخ پر سویل – سویل لویدیځ لوري راکوزه سوې او له ۱۰ مایلو غځون وروسته په باشګل کې راځرګندېـږي. د پیتي ګل د درې نورې څانګې په ښي لاس کې دا دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ترمژیګل | Tramzhigul | کراتګل | Karatgul |
| لوشلګل | Loshalgul | سازیلیي ګل | Sazaillaigul |

او د کین لاس درې ئـې دا دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ووګل | Wogul | دیتون ګل | Ditongul |
| پامپولي ګل | Papomligul | | |

په چترال کې یوه ډېـره سخته لاره له «بومبورت» [15] څخه راغلې چې د «پارپیت» [16] له کوتل څخه تـېـرېـږي او بیا د باشګل پر لور په پیتي ګل باندې منتهي کـېـږي. (رابرتس)

* **پودین**: پدین :[17] : ۱۸ – ۳۳، ۵۴ – ۶۸ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې له متاخان څخه تر ګردیز پورې د سړک په اوږدو کې یو کلی دی.

**پدینه**: پودینه: [18]: ۲۶ – ۳۴، ۸ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو په ولایت کې د پنج آو/ پنج آب د شمال ختیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې د درۀ مور په اوږدو کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل ځای د غزني د ولایت په شمال لویدیځ کې د «پنج پیتاو غر» په لویدیځ کې په ۳ – ۳۴، ۵ – ۶۸ «ن» کې موقعیت لري.

* **پوهنده**: پهندا: [19]: ۵۴ – ۳۴، ۶ – ۶۹ «ن»: دا د کابل د ولایت په شمال کې د خواجه خیلو په لویدیځ کې د ستالف په شمال کې یو کلی دی.

**پوجاوه** : وګورئ: هزاره دره: [20] : په دې نوم یو کلی د «مالیمه» [21] په شمال ختیځ کې په ۱۹ – ۳۵، ۳۹ – ۶۹ «ن» کې موقعیت لري.

* **پوکه**: [22]: ۲۹ – ۳۴، ۲۲ – ۶۸ «ن»: دا د میدان په ولایت کې د قلای سید په شمال ختیځ کې د هلمند د سیند په اوږدو کې یو کلی دی.

---

[7] -PITAWA
[8] -Pitawa-i-Ghurban
[9] -Panjao valley
[10] -Binigao tagao
[11] -P I TLA
[12] -Lakarai Kotal
[13] -PITTIGUL Or PITIGAL
[14] -Parpit pass
[15] -Bomboret
[16] -Parpit pass
[17] -PODIN
[18] -PODINA
[19] -POHENDA
[20] -POJAWA See HAZARA DARA
[21] -Malima
[22] -POKA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

**پولاده**: پولادا: [23]: دا د هزاره ګانو یوه اساسي قومي څانګه ده.

* **پورنس**: [24]: ۲۵ – ۳۵، ۵۵ – ۷۰ ,ن,: دا د کونړ د ولایت په شمال کې د " اشتیوي, ,ایشتوي, [25] د سویل په نېـږدې ۴ مایلۍ کې د پارون په درې کې یو کلی دی.

**پوستین دوزا** : [26]: **پوستین دوز ها**: دا د کابل د ښار او د سیاه سنګ د غرۀ تر منځ د کابل د ښار په نیم مایلۍ کې یو کلی دی. دا یو ډېـر بې وزلی او خوار ځای دی. استوګن وګړي: تاجیکان. ,آی. بي. سي,

**پوونده**: پاونده: [27]: دا نوم په دیره جات کې ټولو هغو پښتان قبـیـلو ته اطلاق کـېـږي چې د کډوالی ژوند ژواک لري او د سرې هوا په پیل کې برتانوي قلمرو ته راځي او د دوبي په رانېـږدې کېدلو سره بیرته د افغانستان لوړو سر درو ته کډه کـېـږي. د ,پوونده, یا ,پاوندې, [28] د نوم اشتقاقي ریښه نسبتاً مبهمه او تیارۀ ده. والتر بـیـلو وایي چې دا نوم د پارسي له ,پرونده, [29] څخه اشتقاق سوی دی – چې په سوداګرۍ کې د وړ- معنی ښندي – او دا نوم د دوی پر دندې او کار و بار دلالت کې چې ګرځند بنجاره ,دست فروش – ژ,، ګرځند او مسافر سوداګر او نور دي. راورتي په دې باور دی دا نوم د پارسي د فعل ,پاویدن, ,پوییدن – ژ, [30] یعني ګرځند او لالهاند په معنی دی؛ له بلې خوا ,پګت او میسن, [31] وایي چې ښایي دا نوم پښتو ریښه ولري او د پښتو له پیولو یا پوولو څخه راغلی وي. د دغو سوداګر تقریباً پینځوس زره ۵۰۰۰۰ تنه هر کال د ګومل او د ورخیرمو ګاوندیو کوتلونو له لارو د اکتوبر د میاشتي د شلمي او د دسمبر د میاشتي د پینځلسمي تر منځ دیره اسمعیل خان ته ننوځي او د مارچ د میاشتي له شلمي بیا د مي د میاشتي تر لسمي نیټي پورې بیرته ستنېـږي. دوی په لاندې ډول تصنیف یا ویشل سوي دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ناصر | | ۱۵۰۰۰ | سلیمان | ۱۲۰۰۰ |
| میان خیل | میاخیل - ژ | ۷۰۰۰ | خروټي | ۶۵۰۰ |
| دوتاني | Dotani | ۱۰۰۰ | متفرقه | ۸۵۰۰ |

اخیر الذکره ,یا متفرقه, له بـېـلابـېـلو قبـیـلو څخه جوړه ده لکه: ,میتهي,، ,کندي,، ,میاني,، ,نیازي,، ,ملاخیل,، ,میچن خیل,، ,اندړي,، ,تره کي, [32] او نور. د همدې ګزیټر په دوهم چاپ کې لاندني د پوونده په هکله لاندنۍ عامه شرحه ورکړل سوې ده:

«پوونده وګړي د شپانـۀ توب ژوند ژواک لري. د مني په میاشتو کې دوی ځانونه د «ژوب» [33] تر کوتلونو رسوي او خپلي کورنۍ او خپل څاروي د څړیدلو لپاره په دیره جات کې پرېـږدي؛ د قبـیـلي یوه برخه له خپلو سوداګریزو امتعو سره «دلهي»، «کان پور» [34] او نورو ځایونو ته ځي او د مارچ د میاشت په پیل کې ځان بیرته تګ ته چمتو کوي ؛ دا هغه مهال دی چې د دوی کورنۍ یو ځل بیا خپل دنیوي مال او توکي بیرته تړي؛ له کوتلونو څخه اوړي او غزني او قلات غلزایي ته ځان رسوي او سوداګریز کاروانونه کابل، بخارا، کندهار او هرات ته استوي ,د دوی د خروټو څانګه خپل سوداګریز توکي اکثراً هرات ته وړي, او ټول بیرته هغه مهال راستنېـږي چې له خپلو ډلو سره بیا له دغو کوتلونو څخه واوړي.

,هر هغه څوک چې د افغانستان له داخلي تقسیماتو سره آشنایي لري، د منځنی آسیا نقشي ته په ځغلنده کاتو سره دغه صادقانه تصور پنځولای سي چې دغو سوداګرو څنګه خپل فعالیت په داوطلبانه ډول سره تر لاس لاندې نیولی او څومره په بریالیتوب ئـې سرته رسولی دی. دوی په دلهي کې مجلل محمـدي ,اسلامي – ژ, توکي یعنی د بخارا وچې میوې پلوري او په کلکتې کې انګلیسي رنګه چیت او ډاکه یا ململ ټوکر د هرات نرمو حرمونو او د تورکستان وحشي قبایلو لپاره پیري؛ له بل لوري د دوی په نیمایي لاره کې د سلیمان سخت او ناهموار غرونه پراتـۀ دي ؛ د دغو غرونو واوړي او غزني

---

[23] -POLADA
[24] -PORUNS
[25] -Ashtiwai (Eshtiwi)
[26] -POSTINDOZA
[27] -POWINDAH Or PAWINDAH
[28] -Powindah," or " Pawindah
[29] -parwinda
[30] - pawidan : زه ژباړونکی ګومان کوم چې ددغه لغت په لیکني کې تایپي تیروتنه سوې ده چې باید پوییدن یا Poidan لیکل سوی وای: د پوییدن معنی : رفتن. دویدن. رفتنی نه بشتاب و نه نرم؛ ګشتن، پژوهیدن، پوییدن، با دقت جستجو کردن. ژ
[31] -Paget and Mason
[32] -Mithi, Kundi, Miani, Niazi, Mulla Khel, Michin Khel, Andari, Taraki
[33] -Zhob passes
[34] -Delhi, Cawnpore

سیندونه د قناعت نه منونکو استوګنو وزیرو په پرتلې ډېر دوستانه او آسانه دي او کال پر کال او نسل په نسل د سوداګرو پر وړاندې جګړې کوي او چړې راباسي.

«د لارې په دې برخې کې له خپلو مخالفینو سره د مخامخ کیدلو لپاره پوونده وګړي اړ کېږي چې په ډله ییزه توګه په لویو ډلو کې وخوځېږي چې شمېر ئې له پینځو زرو تر لسو زرو پورې رسېږي، دوی په متناوب او منظم ډول د یوهٔ ټاکل سوي مشر یا خان تر مشرۍ لاندې خپل مارش کوي او مناسبو ځایونو کې دمه کېږي، کټ مټ لکه لښکر چې د دښمن له خاورې څخه تېرېږي.»

«د وزیرو په غرونو کې د یوې ورځې مارش په ندرت سره له نښتو او شخړو پرته تېرېږي چې د کاروان له مخې یا شا څخه دې شوکه او لوټ ونهٔ سي؛ دوی د قافلې له مخې یا له شا څخه یوه ډله جلا کوي او یا ئې څاروي وړي. ځینې وختونه کله چې د دواړو خوا له پلوه کرکه ډېره راوپارېږي نو سمه خونړۍ جګړه ونښلي. سوداګرو څوځو ځله هڅه وکړه چې له خپلو دښمنانو سره سوله او سازښت وکړي او د یوهٔ ټاکلي «باج» په بدل کې ځانته د تېریدلو خوندي لاره برابره کړي؛ د وزیرو شورا په ثابت او متفق ډول سره د سولې دا وړاندیز رد کړ. (د ۱۸۹۴ – ۱۸۹۵ز کال د وزیرستان له لښکر لېږد را وروسته پووندو له امنیتي او تحفظي اړخه د هند په دولت ډېره لګوي او اوس ئې خپل احتیاطي تدابیر نرم کړي دي؛ اوس د ګومل د کوتل له لارې د ۲ او ۳ کسانو په ډلو کې چې ګران بیعه متاع هم له ځان سره لېږدوي د خپلو څارویو په ملتیا تګ راتګ کوي. ډبلیو آر. آر.)

«پایله دا ده چې هماغومره چې پووندو وګړي سوداګر دي په هماغومره اندازې سرتېري او جنګیالي هم دي. دول تل له ځان سره وسله ګرځوي او تل په درندو وسلو سمبال وي ان او سره له دې چې برتانوي دولت ته د ارادت په ښودلو ښیي چې بې وسلې ځي راځي خو هغه مهال چې خپل مالونه او خپلې رمې په دیره جات کې پیایې بیا هم خپلې وسلې له ځان سره ګرځوي.

په ظاهر کې، له خپلو توفان وهلو افغاني «پښتني – ژ» جامو ، بې پروا چارچلند، او خښمناکو او سرمستو غږونو سره په ټولو ګستاخانو کې دوی ګستاخ هم دي؛ او سره له دې چې د دوی څو تنه افراد هند ته د کاروانونو د هدایت لپاره کافي دي په خپل نرم او آرام چارچلند کې له ځانه سوداګریز چل او مکر هم ښیي، هیڅکله قانون په خپل لاس کې نهٔ اخلي، او تل د قانون مجریانو ته رجوع کوي بیا هم کله چې په لویو ډلو کې سره راټول سي، کټ مټ لکه هاغسې چې د اندس په دښتې کې په پسرلي او ژمي کې سره راټولېږي دوی تل له سره تر پایه له قانون څخه سرغاړي دي او یوازې له ځانه ځواکمن ځواک ته سر ټیټوي. دوی په اندس کې سیکهـ چارواکو ته ځکه درنده ګمرکي مالیه ورکوي چې د سیکهـ له چارواکو پرته دوی سره څوک مرسته نهٔ کوي؛ د سیکهانو له مرستې پرته به د دوی قافلې په پنجاب کې ضبط کیدلې؛ سره له دې چې دوی د غرونو په لمنو کې هر ډول لوټ او تالا سوي دي بیا به هم سیکهان له همدغهٔ مورد پرته هیڅکله جرئت ونهٔ کړي چې د دوی په چارو کې مداخله وکړي.»

ښاغلی ادواردز واي: «ما هیڅ داسې پووندو وګړی نهٔ دی لیدلی چې پر ځان ئې یو یا دوه ټپونه نهٔ وي.؛ د یوې سترګې له لاسه ورکول، ماته پوزه، سوځیدلې د سر کوپړۍ، ګوډې پښې، پریک سوي لاسونه او پښې او نور تقریباً ټول دلته دومره عام دي لکه چې په لندن کې د خلکو پوستکي د لمر د وړانګو له کبله سوځیدلي دي.»

د پووندو قبیلو په هکله لاندې شرحه ښاغلي. اچ. اس. تي. ج. تکر لیکلې چې په دیرهٔ اسمعیل خان کې د هغوی د استوګنې په اړه ئې راپور ورکړی دی، دا راپور په ۱۸۸۳ز کال کې چاپ سوی دی:

« پووندو قبیلو له ډېرو لرغونو وختونو راهیسې د هندوستان او خراسان تر منځ سوداګري کړې ده. دوی په یو بل پسې په مزیو د ترړل سویو اوښانو اوږدهٔ کتارونه راوړي چې د بخارا او کندهار په امتعو بار دي او په بدل کې ئې بیرته د هندوستان محصولات او د ولایت تولیدات له ځان سره وړي. ډېري بې وزلې پووندو وګړي د سوداګرۍ پرځای په دیره جات کې دننه سیمه ییزه سوداګري کوي او نور ئې په هغو ګټو وټو ژوند ژواک تېروي چې د خپلو رمو او پادو له محصول څخه ئې تر لاسه کوي.»

«کولای سو پووندو قبیلو په تقریباً ۳ ډلو وویشو:

**لومړی:** «هغه ډلې چې خپلې کورنۍ له ځان سره راوړي او د کمپ وهلو لپاره په تثبیت سویو ځایونو کې خپلې کېږدۍ دروي؛ دغه کمپ ځایونه د «کیرۍ» [35] (د کمپ کلي) په نوم یادېږي؛ د دې ډلې یوه برخه په سوداګرۍ پسې وځي.»

**دوهم:** «هغه پووندو ډلې چې له کاروانونو «قافلو» سره راځي خو له دوی سره د دوی کورنۍ مل نهٔ وي او دوی د کمپ وهلو لپاره کوم تثبیت سوی ځای نهٔ لري.»

**دریم:** « هغه ډلې چې هیڅ نوع متاع او اسباب او توکي نهٔ لري او دلته د کارګرانو په توګه راځي. دا کارګران د «چړه» [36] د خلکو په نوم یادېږي. دوی شاو خوا ګرځي راګرځي؛ کله کله په لویو ډلو کې ګرځي، کله په دوه دوه یا درې درې تنو

---

[35] -kiris
[36] -charra folk


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ډیره جاتو په ټولو کلیو او ښارګوټي کې ګرځي. دوی د سختو کارونو د ترسره کولو لپاره چې هر ډول کار وي چمتو دي لکه د ډبرو ماتول، سړک جوړول، د ځنګلونو پاکول «بوټي ماري» [37]، او هر هغه نور کارونه چې د مسلکي کارونو په پرتلې د قوت او انرژۍ مصرفول په کې اړين وي دوی ورته چمتو دي. دوی ډېر زیارګالي او زحمت کش خلک دي، هر هغهٔ څه چې ګټي سپما کوي ئې او له ځان سره ئې افغانستان ته وړي او په هغهٔ قوت او لایموت ژوند کوي چې له ورځني سخت کار وروسته د ماښام له پلوه ئې په سوال او ګدایي تر لاسه کوي. »

«د پوونده ډیرۍ ډلې د ګومل د کوتل له لارې دې ولسوالي ته راننوځي. د پوونده اکثریت سوداګر همدا لاره نیسي؛ خو د پووندوو يو ټاکلی شمېـر چې اکثریت ئې پسونه لري غوره بولي له دې لارې جلای سوې هغه لاره ونیسي چې د «زم/ خم» [38] د کوتل له لارې تللې ده او په «زرکاني» [39] کې راوځي. د پوونده وو ټول ټال شمېـر چې دې ولسوالي ته راننوځي، د هغو شمېـرنو له مخې چې په ۱۸۷۷ ـ ۱۸۷۸ز کال د سړو میاشتو په ترځ کې د کوتلونو په خولو کې وسوه ۷۶۴۰۳ وو. د دوی شرحه په لاندې ډول ده:

| | | |
|---|---|---|
| نارینه | | ۳۵۴۳۹ |
| ښځې | | ۹۱۲۸ |
| ماشومان | هلکان | ۲۵۴۲۲ |
| | نجوني | ۶۴۱۴ |
| ټولټال | | ۷۶۴۰۳ |

«د نارینه وو ورکړل سوې شمېـره ښایي نسبتاً صحیح وي. د ښځو او ماشومانو ورکړل سوې شمېـرې ډاډمنې نـهٔ دي. يو ه بله شمېـرنه چې په ۱۸۷۹ز کال کې تر سره سوې د پوونده د کیري [40] «هغوی چې خپلې کورنۍ له ځان سره راوړي» په ډلې اړوند د جنګیالو شمېـر ۱۴۱۳۳ تنه ښیي. دا شمېـره اجازه راکوي چې د هر نارینه پر سرېه اوسط ډول دوه میرمنې او ماشومان په پام کې ونیسو، چې په دې توګه د کیرۍ د خلکو شمېـر باید ۴۲۳۹۹ تنه وي. د «چړه» [41] د خلکو په قافلې کې د جنګیالیو شمېـر ئې ۱۵۳۰۰ تنه ورکړل سوی دی چې ټولټال شمېـر ئې ۵۷۶۹۹ تنه کېـږي او په دې شمېـرې کې ۲۹۴۳۳ تنه ئې جنګیالي دي. د ۱۸۸۰ ـ ۱۸۸۱ز کال د سړو میاشتو په لړ کې ۴۹۳۹۲ تنه پوونده دې ولسوالي ته ننوتل چې ۳۲۲۱۹ تنه ئې نارینه ول. د کیري د خلکو شمېـر ثابت پاتې سو؛ خو د چړه د خلکو شمېـر نوسان او بدلون، د قلت او فاقې فصلونو ته معروض دی چې د نارینه وو شمېـر ئې راټیټوي او په عادي کلونو کې په خپلو کورونو کې پاتې کېـږي. د پوونده کیري وګړي ځانته خپل د کمپ او کېـږدۍ و هلو ځای غوره کوي، په مجردې چې دښتو ته راورسېـږي خپل ځای غوره کوي او خپلې کېـږدۍ دروي. ښایي دوی همدا کمپ کال په کال وساتي، خو ورسره ښایي د کوم مشخص دلیل پر بنسټ د کمپ ځای بدل کړي مګر دا بدلون ډېـر په ندرت پـېـښیږي. ښځې، ماشومان او وسلې د کیري په همدې کمپ کې پاتې کېـږي. د نارینه وو دوه پر دریيمه برخه هم له ښځو او ماشومانو سره پاتې کېـږي او پاتې نور نارینه ئې له خپلو بار کړو اوښانو او سوداګریزو توکو سره هندوستان ته ځي. سره له دې چې د پوونده وګړي د ریل ګاډي له کارولو څخه خوښ دي او د همدې خوښۍ او هیله مندئ پر بنسټ غواړي چې ځانونه وختي مارکیټونو ته ورسوي خو بیا هم د دوی ګڼ شمېـر هماغه زړې لارې چارې غوره بولي چې له خپلو اوښانو سره دلهي، کان پور، بنارس او ان پټنې ته ځان ورسوي.»

«زموږ په لاس کې ډاډمن معلومات نـهٔ سته چې د پووندوو د سوداګرۍ د پراخوالي کچه پرې روښانه کړو. لاندنی شمېـرې هغه تر ټولو ښې احصائیوي اټکلنې دي چې د عمده اقلامو د صادراتو او وارداتو له مخې تر لاسه سوي دي :

| واردات | | |
|---|---|---|
| اقلام | | په روپیو |
| میوه: وچه او تازه | | ۷۰۰۰۰۰ |
| مجیټ | Madder | ۶۰۰۰۰۰ |
| اوم یا خام وریښم | | ۵۰۰۰۰۰ |

37 -butimari
38 -Zam pass
39 -Zarkani
40-kiris
41-charra


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولئ

| | |
|---|---|
| وړۍ | ۱۵۰۰۰۰ |
| چرس | ۱۰۲۰۰۰ |
| آسونه | ۶۵۰۰۰ |
| هنجانه | ۵۰۰۰۰ |
| تنباکو | ۳۰۰۰۰ |
| د وارداتو ټولټال | |

| صادرات | |
|---|---|
| اقلام | په روپیو |
| نیل | ۶۰۰۰۰۰ |
| کتاني منسوجات (انګلیسي تولید) | ۵۰۰۰۰۰ |
| کتاني منسوجات (کورنی تولید) | ۶۰۰۰۰۰ |
| چای | ۱۰۰۰۰۰ |
| بوټان او څرمن | ۴۰۰۰۰ |
| مالګه | ۲۰۰۰۰ |
| بوره | ۲۰۰۰۰ |
| فلزي اقلام | ۲۰۰۰۰ |
| خاورین لوښي | ۷۰۰۰ |
| د صادراتو ټولټال | ۱۹۰۷۰۰۰ |

(د پوونده وو سوداګریز مرکزونه په خراسان، بخارا، کابل، کندهار او غزني کې دي. لاندني اقلام هغه مال التجارتي عمده اقلام دي چي له هر یوهٔ مرکز څخه راوړل کېـږي:
له بخارا څخه: وریښم، چرس، د سرو او سپینو زرو سپنسی(کلاباتین/ ګلاباتون –ژ) [42] او پوستینونه.
له کابل څخه: بادام، پستې، ممیز، وچې میوې او د کاګړو له سیمي څخه وړۍ.
له غزني څخه: مجیټ، وړۍ، غوړي، تنباکو او هنجانه.
(زه باید د پوونده د مخکښو قبـیلو لنډه شرحه وړاندې کړم)
دا قبـیلې دا دي: ناصر، سلیمان خیل، خروټي، میاخیل او دوتاني؛ لږ مهمې قبـیلې دا دي: نیازي، ملاخیل، میتي، کندي، تره کي، توخي او اندړ.)
(ناصر هغه قبـیلـه ده چي لږ مقیمه ده؛ دوی خپله سیمه نـهٔ لري. دوی ژمی په دیره جاتو او دوبی د غزني په سیمي کې تـېـروي؛ دوی ۳۰۰۰ روپۍ (توران غلزیو) [43] ته د هغوی په سیمي کي د پاټي کیدلو لپاره د (نندرامي) [44] په نوم ورکوي. ناصر عموماً له خپلو رمو او پادو سره اوسېـږي. دوی ۳۳۰۰۰ اوښان او څه دباندې یو سلو دیرش زره، ۱۳۰۰۰۰ پسونه، مېـږې او وزې لري، د دوی شتمني عمدتاً د دوی پادې او رمې دي؛ د دوی کیږي څانګه په ګومل کې د دړې د رزکاني د غرونو له لمنو نیولې له (چاندوان) [45] کوز تر (کوټ تګه) [46] پورې خوره وره ده. کیدای سي د دوی شمـېـر له ماشومانو او میرمنو سره تر شلو زرو تـنو پورې وي. ناصر په یو شمـېـر مهمو څانګو ویشل سوي دي خو د ناصرو ډېـره مشهوره څانګه هغه څانګه ده چي د اوښانو، غوایانو او خرونو پادې او د پسونو رمې لري. د (اوښ والو) [47] په منځ کې غریب کسان ئـې لومړی راځي؛ دا کسان عمدتاً په بار وړلو کې ښکیل دي چې له بنو او تر بنو پورې مالونه وړي راوړي. دوی د کوهاټ له کانونو څخه مالګه، له غرونو څخه (ملتاني متي) [48] او له (مروت) [49] څخه غلات راوړي. دوی د سون توکو په پریکولو او پلورلو کې هم ښکیل دي. په دوی پسې د ناصرو شتمن خلک راځي؛ دوی په

---

[42] -kalabatin
[43] -Turan Ghilzais
[44] -nandrami
[45] -Chandwan
[46] -Kot Tagga
[47] -Ushwals
[48] -Multani matti
[49] -Marwat

عام ډول سره مال التجاره، انگور، بادام او مجيټ راوړي. اوښوال کيري معمولاً له غرونو ليرې په «ساگو»، «ايريني من»، «پن ياله»، «پوته» او په «کهيړي علاقه» [50] کې پاتې کېږي. «غوايي وال او خروال» [51] ئې غوايان او خرونه لري. دوی عمدتاً په ښارگوټو کې په کارونو، د خاورو په وړلو او نورو کې ښکيل دي. دوی خپله کيري يا ډله نـهٔ لري. دوی د سپټمبر د مياشتې په پای کې رارسېږي او د اپريل د مياشتې د پيل په شاوخوا کې بيرته ستنېږي. «پسهٔ وال/ گوسفندوال» [52] ډله د اکتوبر د مياشتې په شاوخوا کې رارسېږي او د اپريل د مياشتې د پای په شاوخوا کې بيرته ستنېږي.دوی د غرونو د لمنو د شاو خوا په اوړدو کې ميشتېږي. يو شمېر ئې په «پن يالې» [53] کې خپلې کېږدۍ دروي خو دا ډله په عام ډول سره د کال د فصل په دې برخې کې خپلې رمې «بهکر تل» [54] ته بيايي. ناصر نارينه اکثريت ئې په قد ټيټ او مزي يا کلک دي. ناصر په عام ډول سره د ښـهٔ چارچلند قبـيـله ده خو له خپلو گاونډيو سره چې د دوی کېږديو ته نېږدې دي لږ په تکبر او آمرانه چلند لري. غواگاني ئې په مکرر ډول سره د کښت وړ ځمکو ته نـهٔ ځي او ورڅخه نـهٔ تېرېږي او که په ځمکو ورسي او د ځمکو څښتن هڅه وکړي چې غواگاني ئې ورڅخه ونيسي نو د مال د څښتن له زور او ځواک سره مخامخ کېږي.

دا يوه جگړه ماره او جگړې ته چمتو ډله ده چې کيدای سي د برتانوي قوانينو له حاکميت مخکې ئې ميان خيلو او نورو قبـيلو سره چې په دښتو کې د اوږد مهالې استوگنې له کبله کم زورې سوې دي هماغسې چلند کړي وي چې د دوی پلرونو او نيکونو له «سوريانو» او «پبيانو» [55] سره کړی وو يعنې دوی له دې سيمو وايستل او ځمکې ئې ورڅخه په زور ونيولې. د ناصرو او دلته د نورو يادو سويو قبـيلو په هکله د لا نورو معلوماتو لپاره د هغوی تر اړوندو عناوينو لاندې معلومات وگورئ.

«خروټو د گومل د سيند سرچينې او د سليمان خيلو د سيمې په لويديځ کې د «ارغون»(اورگون) [56] ولسوالۍ نيولې ده. دوی په عام ډول سره د نوامبر د مياشتې په پای کې دغو دښتو ته راځي او د مې په مياشتې بيرته ستنېږي. خروټي ۱۶ کيري يا ډلې لري. دوی «تانک»، «ملازيو» او «پهاړ پور» [57] ته نېږدې موقعيت لري. دا يوه بې وزلې او غريبه قبـيلـه ده چې له سليمان خيلو سره د اوږدو او نابرابرو جگړو له کبله تقريباً ډېرې وړې سوې ده. سره له دې چې د دوی دا دښمنۍ په هندوستان کې د اقامت پر مهال متوقفه کېږي خو په مجردې چې بيرته د دې خوا په غرونو بيا ننوځي نو دښمنې بيرته له سره پيل سي؛ که څه هم مرستيال کمشنر په دې وروستيو کې هڅې کړي دي او يو شمېر بريا او پرمختگونه ئې تر لاسه کړي دي چې دواړه قبـيلې سولې او ښو اړيکو ته غاړه کښېږدي. د خروټو اکثريت وگړي د ورځ باړې يا روز مزد په کارونو او د ناصرو په شان په انتقالاتو کې ښکيل دي. د خروټو د قبـيلې لويه برخه د «چړه» خلک دي. يو شمېر ئې سوداگري کوي او د خپلو وچو ميوو او مجيټ سوداگري کوي. خروټي څلور يا پينځه زره اوښان لري ؛ دوی دا اوښان له ځان سره دښتو ته راوړي. دوی په خپلو سيمو کې خپلې رمې هم لري.»

«سليمان خيل د پوونده وو تر ټولو لويه او تر ټولو نورو ډېره ځواکمنه قبـيـله ده، دا نوم نـهٔ يوازې ټول خاص سليمان خيل په ځان کې رانغاړي بلکه د غلزي د ستر قوم ټولې هغه قبـيـلې هم په ځان کې رانغاړي چې له پوونده سره متحد او متفق دي. سليمان خيلو له «پشين» او «قلات غلزايي» [58] څخه ان د جلال آباد تر نېږدې شاو خوا پورې لويه او پراخه سيمه نيولې ده، سره له دې چې د سليمان خيلو اکثريت وگړي برتانوي قلمرو ته راځي خو د کال ډېری وخت د غزني د ختيځ په غرونو کې تېروي. ښايي د دوی شمېر ۱۲۰۰۰ تنه وي. د سليمان خيلو اکثريت وگړي «چړه» دي او ټول ټال په گډه سره ۴۰۰۰ اوښان لري. دوی له ځان سره ډېره لږه مال التجاره راوړي، د دوی لويه شمېره کوز ان تر کلکتې پورې ځي او د «دلالانو» [59] کار کوي، هماغلته له سوداگرو څخه مال التجاره اخلي او په پوونده ئې پلوري. دوی خپل عوايد چې تر ډېره نقدينه دي له ځان سره راوړي. هغوی چې په دې ولسوالي کې پاتې کېږي د مزدور کارۍ کارونه کوي. دوی په عام ډول سره راځي او بيرته ځي، په هماغه وخت کې چې خروټي راځي دوی هم څو ورځې وړاندې يا وروسته راځي؛ دا چې ولې وړاندې يا وروسته راځي يا بيرته ځي دليل ئې هماغه دښمني ده چې پورته ئې يادونه وسوه. سليمان خيل ښکلي او پياوړي نارينه دي. دوی د مُفَـتِـنو کسانو نسبي ځانگړتيا لري خو کله چې په برتانوي قلمرو کې

[50] -Saggu, Iriniman, Paniala, Potah, and in the Kahiri ilaqa
[51] -Gaiwals and Kharwals
[52] -Gosfandwals
[53] -Paniala
[54] -Bhakkar Thal
[55] -Suris and the Pabbis
[56] -Arghun (Urgun)
[57] -Tank, Mulazai, and Paharpur
[58] -Pishin and Kalat-i-Ghilzai
[59] -go- betweens, or dalals


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

اوسیږي نو ډېــر ښـهٔ چارچلند غوره کوي. دوی ۹ کیري یا ډلې لري چې په «اماخیلو» او «ملازیو» [60] کې او د «ټانک» او «کلاچي» [61] په ګاونډ کې موقعیت لري خو په دوی پورې اړوند وګړي چې په یادو سویو موقعیتونو کې اوسېـږي د هغو سلیمان خیلو دریمه برخه هم نـهٔ جوړوي چې دې ولسوالي ته راننوځي. د یادو سویو نهو کیریو یا ډلو په منځ کې اوس یوه کیري ئې ورکه سوې ده، ځکه په دې ډلې پورې اړوند ټول نارینه د ۱۸۷۹ز کال د جنورۍ په میاشت کې د «ټانک» د پاڅون د ځپلو پر مهال زموږ د سرتیــرو او د دوی تر منځ د جګړې په ترڅ کې ووژل سول.

«میان خیل/ میاخیل د پوونده په قبــیلو کې تر ټولو نورو قبیلو بډایه او شتمنه قبـېله ده. له بخارا سره ډېــره قیمتي او ارزښتناکه سوداګري د دوی په لاس کې ده. د دوی کیري یا ډلې په «دره بند» او «موسی زیو» [62] ، په «کټ مالانه» او «شالو» [63] کې او د «میران په علاقې» [64] کې دي. دوی ۱۵ کیري یا ډلې لري او شمــېــر ئــې ۴۵۰۰ نارینه وو ته رسېــږي. دوی د ۴۰۰۰ تر ۵۰۰۰ پورې خپل اوښان لري. دوی د میان خیلو د دښتې له وګړو سره ډېــره نېــږدې خپلوي لري. د دوبي په فصل کې د دوی کیري یا ډلې د «پناه» او «قره باغ» [65] غرونو ته نېــږدې میشت کــېــږي. دوی په عام ډول سره دلته د نوامبر په میاشت کې رارسېــږي او د مې په میاشت کې بیرته ستنېــږي.»

«دوتانیان» [66] د «وانو» [67] په درې او د «وزیري» [68] د غرونو او «ګومل» [69] تر منځ اوسېــږي. د دوی ځمکې نسبتاً حاصلخیزه دي چې شولې او حبوبات په کې کري. دوی له وزیرو سره په ښو اړیکو کې دي. دا یوه کوچنۍ قبــیـلـه ده چې شمــېــر ئــې یوازې ۷۰۰ تنو جنګیالیو ته رسېــږي. دوی بډای او شتمن خلک دي او له بخارا سره ګټوره سوداګري پر مخ وړي. دوی پوستنیونه، چکمنې او چرس راوړي. دوی زموږ په قلمرو کې درې کیري یا ډلې لري چې «کټ مالانه» ته نېــږدې او د «کهیري په علاقې» [70] کې میشتې دي. د دوی دریمه برخه د قافلو وګړي دي او کومه کیري یا ډله نـهٔ لري. دوی ۳۵۰۰ اوښان لري. دوی د غرونو شاته خپلې رمې لري. دوی له میان خیلو سره ځي او راځي خو کاروانونه ئې سره جلا دي.»

«**نیازي**: د نیازیو شمــېــر ۴۰۰ تنه نارینه دی. دوی درې کیري یا ډلې لري چې په «مندړا» [71] او د «کهیري په علاقې» کې میشتې دي. دوی له کندهار سره سوداګري لري او له کندهاره وچې میوې او مجیټ راوړي. دوی تقریباً ۳۰۰۰ اوښان لري خو رمې نـهٔ لري.»

«**میاني** د ګومل د درې د دښتې له میانیانو سره متحد دي چې د ژمي په موسم کې د دوی څنګ ته میشت کــېــږي. د دوی شمــېــر ۴۰۰ تـنـه نارینه دی. دوی څلور کیري یا ډلې لري او تقریباً ۸۰۰ اوښان او تقریباً ۸۰۰۰ پسونه او وزې لري.»

«**میټهي**» [72] یوه بله کوچنۍ قبــیـلـه ده؛ دوی درې کیري یا ډلې لري چې د «پهاړپور په علاقې» [73] کې میشتې دي. د دوی شمــېــر ۳۰۰ نارینه او تقریباً ۱۲۵۰ اوښان لري.»

« **ملاخیل**»، «**کندیان**»، «**زمرانیان**» او «**ګورانیان**» [74] کوچنۍ قبیلې دي او د دې اړتیا نه لرو چې هره یوه ئې په جلا جلا توګه یاده کړو، د دوی کیري یاد ډلې د پهاړ پور په علاقې کې خورې ورې دي. دوی ټول ټال ۶۰۰ نارینه دي او ۳۵۰ اوښان لري. ملاخیل هم ۳۵۰۰ پسونه لري.»

«**تره کي، توخي، اندړ** او **دولت زي** ټول د غلزیو قبیلې دي چې غزني ته نېــږدې او قلات غلزایي کې اوسېــږي. د دوی هغه ډلې چې دلته راځي د قافلو خلک دي او خپلې کورنۍ په خپلو سیمو کې پرېــږدي. د دوی په منځ کې تقریباً ۶۰۰۰ جنګیالي سته او ۱۱۰۰۰ یولس زره اوښان لري.»

« کله نا کله د پوونده بــېــلابــېــلې قبــېیلې دښتو ته په منظم ډول یو په بل پسې راځي ــ لومړی **ناصر**، **بیا سلیمان خیل**، بیا **خروټي** او بیا **میان خیل** ــکیدای سي یو وخت به همداسې ول. خو اوس کومه خاصه قاعده ورته نـهٔ سته. د بــېــلګې په توګه سږ کال «۱۸۷۸ ــ ۱۸۷۹ز کال» لومړی میان خیل راغلل او ناصر وروسته.»

---

[60] -Amakhel, Mulazai
[61] -Tank and Kulachi
[62] -Draband and Musazai
[63] -Kat Malana and Shalu
[64] -Miran ilaqa
[65] -Panah and Karabagh
[66] -Dotanis
[67] -Wano
[68] -Waziri hills
[69] -Gumal
[70] -Kahiri ilaqa
[71] -Mandra
[72] -Mithis
[73] -Paharpur ilaqa
[74] -Mulla Khels, Kundis, Zamranis, and Guranis


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

„په راتلونکي پاڼې کې ویل سوي معلومات له یو بل سره مل د بېلابېلو قبیلو شمېر او د هغوی د څاریو شمېر ښیي چې هره قبیله څومره څاروي لري او لاندني مفصل معلومات ویل سوي دي:
د پوونده د ځواک „توره„ [75] په هکله لاندنی راپور ښاغلي ال. ډبلیو کینګ د دیره جاتو مرستیال کمشنر د ۱۸۹۴ز کال په مني کې په دې موخې لیکلی چې د „وانو „ په احمدزیو او „محسودو„ [76] باندې برید وکړي، دا معلومات په زړهٔ پورې دي:
„د دوه وو ډلو تر منځ د اړیکو د پوهیدلو لپاره چې د „تورې„ [77] „د ګډ قومي ځواک – ژ„ د رامنځته کیدلو سبب ګرځي، اړینه ده چې د قبیلو تأریخ ته په ځانګړې توګه د اړوندو قبیلو تأریخ ته مراجعه وکړو. په ډېرو پخوا وختونو کې د „وانو دره„ [78] د „دوتانیانو„ [79] په ملکیت کې وه، دوتانیان لا تر اوسه د سلیمان خیلو د پیاوړې قبیلې تر حمایوي چتر لاندې دي. تقریباً ۵۰ کاله مخکې احمدزي چې یوه کوچیانۍ قبیله ده په „مارغه„ او „برمل„ [80] کې له خپلو مینو راووتل او د وانو پر لور راوخوځیدل او د وانو په درې کې ئې ځانته د ښنو اینودلو ځای تر لاسه کړ چې قسماً په زور او قسماً ئې د ځمکو د ګرو یا رهن کولو له لارې ول. د وخت په تېریدلو سره ټوله دره د دوی لاس ته ورغله. تقریباً دیرش کاله مخکې دوتانیان د سلیمان خیلو په مرستې چې په وانو کې د مالګر د ځایونو د لرلو ادعا کوي د یوې نومیدانه هڅې په لړ کې کوښښ وکړ چې دا دره تصاحب کړي. یوه شدیده جګړه رامنځته سوه او بریدګر په شا وتمبول سول، بریدګرو ډېر تلفات وګالل. د جګړې ډګر „زوړ دوتاني کوټ„ [81] وو؛ دا کوټ له همدغې جګړې راوروسته هیڅکله بیرته ونهٔ رغول سو. له همدغهٔ وخت راوروسته له یوهٔ لوري د احمدزیو او د دوتانیانو او سلیمان خیلو تر منځ او له بل لوري په وانو کې د ځمکو او پووندو پر سر اوږدمهالي ناندرۍ او شخړې دوام لري. د تېر کال د ساړهٔ فصل په پیل کې د احمدزیو او دوتانیانو تر منځ د یوهٔ کاریز د ملکیت د حق پر سر چې د میرخان کاریز نومېږي جګړه ونښتله. احمدزیو په دې جګړې کې د دوتانیانو یو شمېر کسان ووژل او د دوی استحکامي کلی چې „نوی دوتاني کوټ„ [82] نومیدهٔ ونړاوهٔ.
د دې جګړې پایله په دې واوښتله چې دوتانیان او سلیمان خیل دواړه په ګډه پریکړه وکړي چې په دوبي کې خراسان ته د بیرته راستنیدلو په لاره کې د وانو په احمدزیو باندې په ګډه برید وکړي. د دې خبر په اوریدلو سره د دیرهٔ اسمعیل خان ملکي چارواکو د سلیمان خیلو، دوتانیانو او د احمدزیو ملکانو یوه جرګه په دې موخې راوبلله چې د نښتې مخه ونیسي او که ممکنه وي نو د دښمنو قبیلو تر منځ دې دوستانو خبرو اترو ته لاره پرانیزي. په پای کې دوتانیانو ومنله چې د دوی په لاس د وژل سویو دوتانیانو لپاره به د „خون بها„ پیسې ورکړي او هغه کلی چې دوی نړولی وو هغه به بیرته له سره ورغوي. د داسې د قناعت وړ پریکړې په اوریدلو سره دوتانیانو او سلیمان خیلو هم ژمنه وکړه چې ځان به له راتلونکو شخړو لیرې ساتي. د تودې هوا د فصل په پیل کې دوتانیان یو ځل بیا د „توی„ [83] په اوږدو کې د „توتي„ [84] په سیمې کې د احمد زیو تر برید لاندې راغلل او همدلته خپل دوبني میشت ځای ته له تګ څخه منصرف سول. دوتانیانو په دې برید کې خپل ۷ تنه کسان له لاسه ورکړل او ۱۲۰ غواګانې ئې لوټ سوې. په دې سره دوتانیانو پریکړه وکړه چې د داسې بې دلیله برید غچ به هرو مرو اخلي نو له همدې امله ئې خپل متحد سلیمان خیلو ته په دې هیله مخه کړه چې د سړې هوا په لړ کې به په ګډه په „وانو والو„ [85] برید وروړي.
„سلیمان خیل نهٔ یوازې په دې موافق سول چې د دوتانیانو مرسته به کوي بلکه پریکړه ئې وکړه چې د دې موخې لپاره به د پوونده د ټولو قبdلو یوه ټلواله هم جوړوي. د دې موخې له ټاکلو وروسته د سلیمان خیلو نامتو ملکان: محمد اکرم خان، خان خان، کیت خان، سلطان محمد او الله یار خان د یوې کوچنۍ ډلې په ملتیا د تیر سپتمبر په میاشت کې „شلګر„ ته راورسیدل او د میان خیلو ملکان ئې راوبلل چې همدلته ورسره وګوري. ملکان: نواب خان، سید محمد، شیرعلي، یار محمد او عطاء ګل شلګر ته واستول سول چې د میان خیلو استازیتوب وکړي. د دواړو قبېلو تر منځ توافق وسو چې د „محسودو„ پر ضد به، یوه ګده توره راوباسي. خو میان خیلو د وانو پر احمدزیو برید کول ونهٔ منل ځکه له هغوی سره

---

[75] -Powindah force (torah)

[76] -Ahmadzais and the Mahsuds

[77] - torah : له توره څخه موخه هماغه د پښتو توره یا شمشیر ده چې دلته د ځواک او زور او قوت په معنی کارول سوې ده. د لوستونکو دې پام وي چې په انګلیسي کې تورات هم د torah په ډول لیکل کیږي. له لغوي اړخه د توره یا تورات معنی منطق، تدریس، لارښوونه، قانون او هدایت دی. د هبرو یا عبري بایبل ۵ کتابونه په یوناني کې د پنتا تیچ یا پینځو کتابونو په معنی راغلي دي. - ژ

[78] -Wano Valley

[79] -Wano Valley

[80] -Margha and Birmal

[81] -old Dotani Kot

[82] -new Dotani Kot

[83] -Toi

[84] -Totoi

[85] -Wanowals



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ئـې د سولې ترون کړی وو. پریکړه وسوه چې کله چې د میان خیلو کیري یا ډلې دښتو ته وخوځیدلې ٫میان خیل د پوونده قبـیـلو وروستی قبــیـله وه چې کوزه راتلله٬ نو د محسودو پر ضد به خپل ځواکونه له سلیمان خیلو سره یو ځای کړي. په دې پسې سلیمان خیلو د دوتاني ملکانو: غلام حیدر، شهاب الدین، غلام صدیق او ساد رحمت ته پیام ولېـږه؛ دغه ملکان د خپلې قبــیلې په استازیتوب په دې موافق سول چې په ټاکلي وخت به خپل ځواک ولېــږي چې له توري سره یو ځای سي. په پای کې د خروټو ملکان: ولي خان او عظیم خان غونډې ته راوبلل سول او دوی هم په دې موافق سول چې له توري سره به یو ځای کــېــږي. خو دوی لومړی د سلیمان خیلو ملکان د قسم اخیستلو ته اړ کړل چې له محسودو څخه به بډې یا رشوت نـهٔ اخلي او دا ستونزه به په سوله ناک ډول نـهٔ حل کوي. په عین وخت کې د څلورو مخکښو قبــیـلو استازو دا پریکړه هم وکړه چې ټول کوچیان ٫پووندە کوچیان٬ دې دښتې ته پر لارې په ٫ورشک٬ [86] کې له دې توري سره یو ځای سي. د دې پریکړې پر بنسټ ټول پووندە کوچیان ٫ د هغوی د کورنیو په ګډون٬ باید له دې توري سره یو ځای سوي وای، خو اصل خبره دا وه چې د کوچیانو د مقیمو یا استوګنو څانګو جنګیالي باید له توري سره یو ځای سوي وای. له دغو پریکړو دا جوتېــږي چې یوازې سلیمان خیل او دوتانیان به په وانو والو برید کوي، او د پووندە د ټولو قبــیـلو ګډ ځواکونه به د محسودو پر ضد کارول کــېــږي چې د محسودو له لاسه ئې وخت ناوخت ډېــر کړوانه لیدلي ول.

٫د اکتوبر د میاشتې په نیماییو کې توره ٫ګډ قومي ځواکونه ــژ٬ په ٫ورشک٬ کې په دې موخې راټول سول چې لومړی به له وانو څخه غچ اخلي او بیا په محسودو برید کوي. د پووندە قبــیلو ګډو ځواکونو تر ٫میران٬ پورې پرمختګ وکړ، خو دلته په میران کې دوی ته د کمشنر لیک راورسید، کمشنر دوی ته ګوابن کړی وو: له دې چې وانو او وانو وال زموږ تر تحفظ لاندې دي نو د هغوی پر ضد دې د دښمنۍ له اقداماتو څخه ډډه وکړي او په ډېــر لنډ وخت به کې زموږ سرتــیــري وانو ونیسي. په دې توګه په وانو د برید مخه ونیول سوه او د وانو پر ضد ټلواله وپاشل سوه. د سرحدي تحدید د بدرګې په رسیدلو سره په وانو کې د سلیمان خیلو، دوتانیانو او د خروټو د ملکانو یوه استازې ډله کمشنرته سترګې په لار وه ؛ دوی له کمشنر څخه اجازه وغوښتله چې د محسودو پر سیمې باندې دوی ته د برید اجازه ورکړي. دا غوښتنه ځای پر ځای رد سوه او ملکانو ته وویل سول چې د امیر د اتباعو او د وزیرو تر منځ دښمنۍ ته به چې د امیر تر تحفظ لاندې هیڅکله اجازه ورنـهٔ کړي. ملکانو دا هرو مرو پریکړه چې په ټوله کې د خپل مأموریت له ناکامه پایلې څخه په هیڅ ډول خوښ نـهٔ ول په ښـهٔ نیت ومنله او له دې وروسته د دوی توره په لنډ وخت کې ترۍ تم سوه.

٫ د دوتانیانو د غوښتـنې پر بنسټ د درویش خیلو د نامتو ملکانو یوه جرګه جوړه سوه چې د وانو له وزیرو سره د هغوی اوږد مهاله دښمنۍ پای ته ورسوي او لاره چاره ورته ومومي. دې جرګې، د دواړو خواوو په رضایت یوازې د ٫خون بها٬ پوښتنه راپورته او پریکړه ئـې وکړه چې د وانو احمدزي به ټول ټال ۴۰۰ روپۍ د خون بها په توګه دوتانیانو ته ورکوي چې ۲۰۰ روپۍ به ئـې د یوې میاشتې په ترڅ کې او پاتې نورې به ئـې خراسان ته د دوتانیانو دوبني مرکز ته په رسیدلو سره دوتانیانو ته سپاري٬

**پریسن ګل**: وګورئ: پیچ

نور بیا

## پرونځګرام: دا په پریسن ګل یا پیچ کې د کافرستان یو کلی دی...

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

[86] -Warshak



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ